مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۲۲/۱۰/۲۷

یو سفر، یوه پوښتنه

د اوکراین د سفر یوه خاطره

ما (آصف بهاند) د اوکرایین پلازمینې کییف ته څو ځلې سفرونه کړي دي، تر ټولو له خاطرو ډک سفر مې د ۲۰۱۴ ام کال په مني (د اکتوبر له پیل نه تر پایه پورې) کې و چې یو زرین منی مې د زېړو پاڼو د رژېدو او تر پښو لاندې د ماتېدو له میلودي سره تېر کړ.
د دې سفر په ترڅ کې مې د کییف په زړه کې یو سرخلاص نظامي موزیم هم ولید. په دې موزیم کې یوه په زړه پورې خو دردونکې برخه هم وه چې پر افغانستان باندې د شوروي قواوو د یرغل په موده کې، کومې درنې او سپکې وسلې چې شوروي نظامیانو هلته کارولې وې؛ د هغو بېلګې په دې موزیم کې اېښودل شوې وې چې یوه بېلګه یې یوه جنګي چورلکه وه. زه د شعر په ژبه له دې چورلکې سره غږېدلی یمه. دا شعر ما د ۲۰۱۴ ام کال د نومبر پر اته ویشتمې خپور کړی و، اوس چې د اوکرین جګړې ټوله نړۍ لړزولې ده او منفي تاثیرات یې د نړۍ هروګړي ښورولی دی، د هغه وخت اوکراین او د هغه وخت کییف له اوسني اوکرایین او کییف سره هېڅ د پرتلنې وړ نه دی.
د ۲۰۱۴ ام کال په اکتوبر کې د زېړو زرینو پاڼو شړقا وه او د سږ په اکتوبر کې د رنګارنګ مرمیو پړقا ده؛ زه په دغسې یو حالت کې یو ځل بیا خپل یاد شعر (چورلکې نه پوښتنه) له دې لنډکی مقدمې سره خپروم.
هېڅ چا به فکر نه کاوه چې اوکرایین او کییف به د هغې جګړې ډګر شي، چې همدې چورلکې او د دې چورلکو امرینو او چلونکو په افغانستان کې توده ساتلې وه. ما چورلکه یو ژوندی انسان ګڼلې، خبرې مې ورسره کړې دي او دا پوښتنه مې ځنې کړې ده:

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

چورلکې نه پوښتنه

زه هم پیلوټ یم

خو د اوښکو پیلوټ

موږ ته تیاره طیاره د ویر راغلې ده سپاره یو په کې

دا دی د جنګ الوت مو کړی دی کرار نه کینو

دا دی د ویر الوت مو کړی دی خندا نه لرو

خو دې الوت کې موږ بقا نه لرو

په دې الوت کې نن هم لاړمه ډیر لرې، لرې

لاړمه نن یو نندارتون ته

چې نا څاپه مې خندا په ژړا واوښتله

چا را ته وې چې دغه دړه ګوره!

ما چې کتل:

وربانديې نوم زما د وطن ښکاره شو

سترګې مې ښې خلاصې کړې ومې لیدل

هلته د اوسپنې په شمار څو اسبابونه ولاړ

یوه چورلکه، څو ټانکونه ولاړ

یو ځیږهَ غږ له کومې خوا نه را تهَ

چې دې چورلکې په افغان او په ستان کې ډیر خدمت کړی دی

زه هم زینې ته ور نږدې شومه ور وختمه

د ژوند یوه نښه یې منځ کې نه وه

یو یې پیلوټ، څلور دیسانت ځاییدل

زه د پیلوټ په ځای کې کیناستمه

شا و خوا دومره سوچونه او تنی ډیرې وې

لکه زما د وطن ویر چې ډیر دی

هماغه یو ځیږ غږ راته ویل یې:

چې دې چورلکې په افغان او په ستان کې ډیر خدمت کړی دی

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

زه د پیلوټ ځای کې کرار ناست وم خندا راغلله

او د خندا پټو څپو سره مې مخې ته ژړا راغلله

زړه کې مې ځان سره ژړل او ویل:

خدمت خو دا وي چې د بم پر ځای ګلان وکري

خدمت خو دا وي چې سپیره ډاګونه شنه کاندي

او کلیو کې مکتب ودان کړي

خدمت خو دا وي چې نا لوستي هلکان او نجوني

له لاسه ونیسي ښوونه او روزنه ورکا

خدمت خو دا وي چې یا هیڅ ور نه شي

او که ورځي نو آبادي به کوي

فولاد نه جوړ له دې شاهین نه په څو ځلې تاو شوم

د ژوند یوه نښه یې هیڅ یو څنګ کې

او یا هم منځ کې نه وه

ښکته او پورته، لاندې باندې

څلور خوا ته یې د مرګ نښې وې

په پای کې پوه شوم چې خدمت څه شی وي

ورغلم مخې ته یې

سترګو په سترګو سره ودریدو

ما وې چې څوک نه شته رښتیا و وایه!

دې اوسپنیز سطل نه غږ راوزي:

چې تا خدمت کړی دی

زه بې هم ومنم دغه خدمت دې

خو ته رښتیا و وایه:

تا د خدمت موده کې

زما د څو تنو ځیږ پوستو هیواد والو وینه تویې کړله؟؟؟

۲۰/۱۰/۲۰۱۴

کییف، اوکراین

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ